انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۱۱/۲۶

# یو څو خبرې له زاهده سره!!!

که زه دوزخ ته ځمه، اور کی سوځم

نو تاله څه زاهده؟

که ته جنت له ځې او کړی عیشونه

نو ماله څه زاهده؟

که ګناهګار یمه، خو زه به یمه درد به وینم

نو تاله څه زاهده؟

که ته جنت کی یی، د حورو او علمانو سره

نو ماله څه زاهده؟

که لړمان د اور، له مانه سر تر پایه تاو وی

نو تاله څه زاهده؟

که ته غوټې وهي، په څم کی د شرابو هلته

نو ماله څه زاهده؟

که زه قیامت کی شم، د رب ج په امتحان کی ناکام

نو تاله څه زاهده؟

که تا ډولی کی، پرینتي وړی تر جنته پوری

نو ما له څه زاهده؟

او که زه لویږمــه، دوزخ ته د صراط د پله نه

نو تاله څه زاهده؟

که دی غلط کړی، لکه پلار بیا په جنت کی شیطان

نو ماله څه زاهده؟

که ما روان کړی، له دوزخ نه د جنت لـوری ته

نو تاله څه زاهـده؟

که تا بـنـدی د جهـنـم، ژوره کنده کی کړی

نو ماله څه زاهـده؟

نه ته خبر یی، په خپل حال باندی نه زه خبر یم

نو ولی بد ګڼی ما؟

نه زه مسؤول ستا د عمل یم، نه ته زما د عمل

ځکه می بد نه ایسي

راځه! د رب ج حضور کی دواړه دا ژمنه وکړو

که باوری یی په ځان

چی د الله ج په هیڅ مخلوق باندی به ظلم نه کړو

زه خو تیار یم ورته

د مولا عــدل تـه بـه دواړه انـتـظـار پاتی شو

ایا تـیـار یــی آشـنا؟

چی د عمل نامه تر لاسه کړو په ورځ د حساب

دواړه بـه و پوهـیږو

چی د شـرابـو، د ګلـونـو او د حـورو باغ تـه

به څوک ورځی زاهده؟

او د دوزخ د اور نه جوړ هغه ښاربه لړمان

به انتظار چاته وی ؟؟؟؟؟